مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند

۲۰۲۴/۰۲/۱۷

لنډۍ، د ثبتولو ستونزه

۲۷۳مه برخه

گلاب، گلاب ځوانان دې لاړل
وطنه چا درته ښېراوې کړې‌دینه

کور دې له‌غمه خالي مه‌شه
پرماراغلي ورځې ستا له‌لاسه دینه

چې زړه مې یو وار درنه تور شو
که بیا قبله هم شې، مخ نه دراړومه

د لنډیو د دې برخې په‌پاره دا لنډۍ راټولې شوې دي:

ته به مې کله، کله یاد کړې
زه دې په زړه پورې ګنډلې ګرځومه

دا سوی، سوی نارې ناورې
د سمندر څپې مې ښکته پورته وړینه

گلاب، گلاب ځوانان دې لاړل
وطنه چا درته ښېراوې کړې‌دینه

پرما دې وې، پرتا دې نه وې
سختې‌ګرمۍ، د ژمي یخ، ساړه بادونه

چې درنه لاړم رابه نه شم
که د بنګال په کوډګر وکړې تاویذونه

د سرې ډولۍ په ارمان مړه شې
نصیب دې مه شه په نکریزو سره لاسونه

یوه دې وه، بله دې وکړه
د وروستنۍ ډولۍ دې وخیژه میخونه

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

کور دې له‌غمه خالي مه‌شه
پرماراغلي ورځې ستا له‌لاسه دینه

کابل په واورو باندې پټ شو
یخه هوا یې پېښور پورې راځینه

د کال څلور فصلونه تېر شول
نصیب مې نه شول ستا د سترګو دیدنونه

له مجبورۍ مې درته شا کړه
نه بې وفا یم نه په زړه کافره یمه

کډې مې توروغرو ته بار کړې
چې د نفرت اورونه مړه شي رابه‌شمه

کډې مې توروغرو ته بار کړې
چې د نفرت اورونه مړه شي، رابه شمه

خدای به مې ورک لالی پیداکړي
بیا به همزولو منځ کې خواره نه کېنمه

رباب زما په درد پوهیږي
هره نغمه کې ورک جانان رایادوینه

چې زړه مې یو وار درنه تور شو
که بیا قبله هم شې، مخ نه دراړومه

یوځلې بیا پردې لار راشئ
د پخوانو پلونو مو نه‌شته نښانونه

لالیه ستا د سفر غږ شو
زه په وړه مانۍ کې ګرده تاویدمه

هر مازدیګر چې سترګه لویږي
د تنارۀ پاستي ویشه، کۀ خاورې ومه

لاسونه کلک رانه چاپېر کړه
په هدیرو کې خلک بېل، بېل خښوینه

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ